سرلوخ مرادزی ۲۰۱۲ / ۰۸ /۲۴

# د ۹۰ لسیزې کورنی جګړې ښخه ولې عبرت نه اخلو؟

د ۹۰ یمي لسیزې د کورنیو جګړو غتېه او وتلي پایله دا ده چې هغه مهال په ایران او پاکستان کې د روزل شویو مذهبي، سمتی او اتنیکی ډلو په لاس مرکزي اداره ړنګه شوه. د افغانستان امنیتي ځواکونه او اردو تس نس شوه او د هغه مهال دولت چې په نسبي توګه يي په لویو ښارونو او د هیواد په عمده لارو او واټونو واک درلود، له منځه یووړل شو. په لویو ولایتونو لکه کابل، کندهار، هرات، ننګرهار، مزار او پکتیا کې بېلا بېلې واکمنی راوټوکېدلي او هیواد په عمل کې په څو ملوک الطوایفي ساحو وویشل شو. په نیمایي کابل کې چې د رباني په مشرې د نظارشورا او جمعیت تر واک لاندې و، رباني بانکنوټونه چلیدل او د کابل پرنیمایي نورو برخو او مزار کې بیا دوستمي بانکنوټونه دود وو. په ننګرهار او سویلي سیمو کې د کالدارو بازار تود وو او په هرات کې بیا ایرانی پیسې مخ په خپریدو وې.

رباني چې د هېواد د ولسمشر پیښې يي کولې، د واکمنی تخت يي د سلیمان پیغمبر تخت ته ورته، پاس هوا کې ګرد ګرځیده. خپله به هم کله په جبل السراج، خیرخانه او یا په تخار، بدخشان او کله به هم له هېواده بهر په دوشنبه، تاشکند او بل کوم نا اشنا ځای یا تکاوي کې پټ وو.

ړومبنی لومړی وزیر يي یو وخت د کابل د شمال په لویلار له موټرو او پلیو کسانو څخه د جریمې په نوم پیسې راټولولې او د فلمي بدماشانو او ډاکوانو په رول کې يي کار کاوه او دوهم لومړی وزیر یی بیا په چاراسیاب کې د ورځې په لومړی نیمايي کې د کابیني غونډې جوړولې او د کابلښار د بیا ودانولو لپاره يي پلانونه تیارول خو د ورځې په دوهمه نیمايي کې يي بیا همدغه ښار په توپونو او توغندیو ویشته او د ښار پاتې جوړې برخې يي هم په کنډوالو بدلولې! (۱)

د کابیني نورو غړو يي هم تر غرمې پورې خوبونه کول او له غرمې روسته به دوی هم یو د بل په وړاندې توغندي ویشتل. دوی به په اونیو اونیو پاکستان ، ایران، سعودي عرب، دوبۍ او یا نورو هېوادو کې د نشه یی توکو قاچاق، د قیمتي کانو او اثارو سوداګري او یا کومه بله پټه دنده تر سره کوله او په غیابت کې به يي چې کله کله به میاشتو میاشتو ته رسیده، په ورته واک او اختیار د هغوی ورونه، د اکا زامن او که نه یار او دوست د وزارت یا ریاست دندې پرمخ بیولې!

ولایتونو به پخپل سر له ګاونډیو او یا لیرې پرتو دولتونو سره نیغ په نیغه اړیکې ټینګولې، ټرونونه به يي لاسلیکول او چارواکو به يي هلته سفرونه کول او هم د نوموړوهېوادو جاسوسان به د دیپلوماتانو په نوم له ویزو او قانوني لاسوندونو پرته د نا بللو میلمنو په شان، هر وخت دغو ولایتونو ته تګ راتګ کاوه!

د رباني د دغه پاشلې، بین المنطقوي اوبین الحاروي واکمنۍ په مهال، د جهادی تنظیمونو مشرانو به په مکه معظمه، تهران، اسلام اباد، پېښور او جلال اباد کې د افغانستان د چارو د حل په پلمه غونډې جوړولې، لوړې به يي کولې، یوبل ته به یی قول ورکاوه او پایلې ته به رسېدل، خو د لږ وخت په تېرېدو سره به يي یو بل ته بد رد ویل، یو بل به يي کنځل او په پاي کې به يي یو بل په توغندیو او توپونو ویشتل!

افغانانو له ۱۹۹۲ څخه تر ۲۰۰۱ کال پورې یو ځل بیا لکه د سقاو د ۹ میاشتو واکمنۍ پشان، د یوې داسې واکمنۍ مزه وڅکله چې هلته نه اداره او دولت و او نه نظم او قانون!

د ۲۰۰۱ کال روسته هم تر ننه پورې د همغو زړو ځواکونو پاتېشونې چې په اوسنۍ اداره کې غوښنه ونډه لري، هڅه کوي چې دولت او اداره پیاوړي نه شي او د مرکزي غښتلي ادارې پرځای، پاشلې او نامتمرکزه اداره واکمنه وي. د مرکزي واکمنۍ د پیاوړتیا پرځای، ولایتونو ته د زیات واک خبرې او د فیډرالیزم سندرې چې هلته دلته اوریدلکیږي، د


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

۹۰ یمي لسیزې د ناکامي تجربي ادامه ده. د مرکزي پیاوړي اداري پرځای، یوې پاشلي واکمنۍ ته د لمن وهلو ښه بېلګه نن په بلخ ولایت کې لیدل کیږی. د بلخ والي بی له دې چې په مرکز رایه ووهي، د رواني جګړې د اوږدوالي کورني لاملونه په پام کې ونیسي او ملي ګټو او ارزښتونو ته ژمن واوسي، د مزار یو واټ په ایراني جاسوسانو نومولې. که څه هم په قانوني توګه هیڅ والي حق نه لري د مرکزي اداري له خبرتیا او لارښووني پرته نیغ په نیغ له بل دولت سره اړیکي ونیسي خو د بلخ والي خپل سرتوب او مرکزي دولت سره غیرنیوي او مقابله په دې ولایت کې د پاشلي او نامتمرکزې اداري په لور د تګ بشپړه بېلګه ګڼلای شو. که نور ولایتونه هم د بلخ ولایت په لار لاړ شي نو پایله یی د ۹۰ یمي لسیزې ګډوډي او په پای کې بیا کورنۍ تاوتریخوالی او جګړه ده!

د ډېرې خواشینۍ خبره دا ده، یو شمیر کسان چې ځانونه روڼ اندي بولي، په پټو سترګو د نوموړو تنظیمونو د پاټېشونو سره په ګډه، غاړه تاووي او د قانون او نظم پرځای ګډوډۍ او پاشلي واکمنۍ ته لمن وهي.

«سیمون ګاس» د ناټو غیر نظامي لوړپوړی استازی د ګران افغانستان د رپوټ له مخې د فرانسې د خبرپاڼې په وینا څرګندوي «د ۲۰۱۴ کال روسته افغانستان کې کورنۍ جګړه بیا نه تکراریږي او طالبان واک ته نه رسیږي».

البته نوموړی د خپلې وړاندوینې د رښتینولۍ لپاره دوه دلایل راوړي، یو داچې افغاني ځواکونه پیاوړي کیږي او بل دا چې د افغانستان په ګډوډۍ کې ګاونډیان یاني ایران او پاکستان ګټه نه ویني.

خو « نیویارک ټایمزپه یوه لیکنه کې چې عنوان یې دی (له افغانستانه وروسته، نوې لویه لوبه) له افغانستانه د ناټو ځواکونو له وتلو روسته په دغه هیواد کې د سیمې او ګاونډیو هیوادونو د سیالیو د پیلېدو اټکل کړی دی، تاند».

همدارنګه د ګران افغانستان د رپوټ له مخې په امریکا کې د پاکستان پخواني سفیر حسین حقاني د واشنګټن ( د ملي ګټو په مرکز ) کې ، خپلو تازه څرګندونو کې وایي« پاکستان به هیڅکله د جهادي ډلو له ملاتړه لاس وانه خلي »

بلخوا که د طالبانو د کمزورتیا او د ایران او پاکستان د ناغوښتني او یا بېوسی له کبله په کور دننه له ۲۰۱۴ کاله روسته ګډوډي او کورنۍ جګړه چې «سیمون ګاس» یې نه پېښېدونکې بولي، هم ریښتیا وبولو خو که مرکزي پیاوړی دولت ونه لرو او د هغه لپاره له اوسه کار ونه شي، په واک کې د ۹۰ یمي لسیزې د پاټېشونو غټه ونډه لکه د مزار بېلګه، په ایرو کې هغه انګار ته ورته پاتیږي چې هر وخت په ستر اور بدلیدلای شي او هیواد بیا کورني ناورین ته ټېل وهلی شي.

هغه ځواکونه چې په بېلا بېلو پلمو له مرکزه تښتي او د هغه د کمزورتیا هڅه کوي، د طالبانو او یا د بل هر تور ځواک پشان، واړه د مرکزي واک دوښمنان ګڼل کیږي.

بلخوا نه ښایی مرکزي واک او په دولت کې د ځینو مفسدو څېرو شتون یو له بله سره ګډوله شي او د داسې څېرو له کبله دولتي مرکزي واک هم رد شي.

بېځایه نه ده چې نیمروز کې یو ویرځپلي ځوان ولسمشر کرزي ته مخامخ په غونډه کې وویل:
«موږ په خپل ویر خپه نه یو، دغه دغم ټغر نن ورځ په ټول افغانستان خپور دی موږ ته سم نظام جوړ که، په نیمروز کې اداري فساد ته د پای ټکی کېښیږده. دلته څارنوال له ګناه ګارو پیسې اخلي او خوشي کوي ئې خو بې ګنا د زندان ټمبو شاته غورځوی»
نن له بل هر وخت زیات، افغان ملت په کور دننه د بېلا بېلو ستونزو سره د مقابلې، د ایران او پاکستان د بربنډو لاسوهنو او تیریو په وړاندې د وړ او غوڅ ځواب او په نړیوال ډګر کې د یوه وتلي او ویاړلي هیواد د بیا ځلیدا لپاره، پیاوړې مرکزي واکمنۍ ته اړتیا لري. افغانان له غښتلي مرکزي واکمنۍ پرته د وخت ستونزو، ننګونو او ګواښونو ته ځواب نه شي ویلای!
همدغه لامل دی چې مخالفین او دوښمن له هرڅه لومړی هڅه کوي چې افغانان غښتلي واکمنۍ ته ونه رسیږي او په هره وسیله چې کیږي د هغې مخه ونیسي!

**یادونه:**
(۱) دلته له ږومبني لومړي وزیر څخه مراد د اسلامي ګوند غړی عبدالصبور فرید او له دوهم لومړي وزیر څخه موخه ګلبدین دی. پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ